# النبأ

مکی سورة دی ۴۰ آیتونه لری
بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

عَمَّ يَتَسَآءَلُونَ ١

( کافران له یو بل نه) د کومې موضوع په باب پوښتنې کوی؟

عَنِ ٱلنَّبَإِ ٱلۡعَظِيمِ ٢

د هغه لوی خبر( قیامت کبری) په هکله؟

ٱلَّذِي هُمۡ فِيهِ مُخۡتَلِفُونَ ٣

هغه خبر چې دوی پکې تل پخپلو کې سره اختلاف لری.

كَلَّا سَيَعۡلَمُونَ ٤

نه-( د اختلاف اوشکونو او پوښتنو هیڅ ځای نشته ډیر زر به د قیامت په حتمی راتګ ) پوه شی.

ثُمَّ كَلَّا سَيَعۡلَمُونَ ٥

بیا هم نه( د اختلافاتو او شکونو هیڅ ضرورت نشته، ډیر زر به د قیامت د مسلم حقیقت په باب) پوه شی.

أَلَمۡ نَجۡعَلِ ٱلۡأَرۡضَ مِهَٰدٗا ٦

آیا( نه ګوری چې)ځمکه مو د اوسیدو لپاره هواره( او مساعده) کړې ده؟

وَٱلۡجِبَالَ أَوۡتَادٗا ٧

او غرونه مو د هغې د استحکام لپاره پکې تکوهلی دی.

وَخَلَقۡنَٰكُمۡ أَزۡوَٰجٗا ٨

او تاسو مو ( د نارینه او ښځې په نوم) جوړه جوړه پیدا کړی یاست.

وَجَعَلۡنَا نَوۡمَكُمۡ سُبَاتٗا ٩

او خوب مو درته د آرام او استراحت وسیله ګرځولی دی .

وَجَعَلْنَا ٱلَّيْلَ لِبَاسًا ﴿١٠﴾

او شپه مو( د هرڅه لپاره) پوښ او پرده پیدا کړې ده.

وَجَعَلْنَا ٱلنَّهَارَ مَعَاشًا ﴿١١﴾

او ورځ مو درته د کار او فعالیت وخت ټاکلی دی.

وَبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا ﴿١٢﴾

او ستاسو له پاسه مو اووه مستحکم آسمانونه جوړ کړی( چې هیڅ خلل او درز پکې نه لیدل کیږی).

وَجَعَلْنَا سِرَاجًا وَهَّاجًا ﴿١٣﴾

او( لمر) مو درته روښانه څراغ او( ګټور)تودوخه لرونکی جوړ کړی دی.

وَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلْمُعْصِرَٰتِ مَآءً ثَجَّاجًا ﴿١٤﴾

او له درنو او باران ورو‌ونکو وریځو څخه مو روانې اوبه نازلې کړی دی.

لِّنُخْرِجَ بِهِۦ حَبًّا وَنَبَاتًا ﴿١٥﴾

ترڅو د هغو په وسیله غلې دانې او نباتات رازرغون کړو.

وَجَنَّٰتٍ أَلْفَافًا ﴿١٦﴾

او د (ګڼو ګورو ونو) باغونه.

إِنَّ يَوْمَ ٱلْفَصْلِ كَانَ مِيقَٰتًا ﴿١٧﴾

بې له شکه( د خلکو تر منځ د اختلافی مسائلو) د پریکړې او قضاوت لپاره( د قیامت ورځ) ټاکل شوې ده.

يَوْمَ يُنفَخُ فِى ٱلصُّورِ فَتَأْتُونَ أَفْوَاجًا ﴿١٨﴾

هغه ورځ چې د صور( دویمه) شپیلی ووهل شی.

وَفُتِحَتِ ٱلسَّمَآءُ فَكَانَتْ أَبْوَٰبًا ﴿١٩﴾

او آسمان پرانستل شی( او بیلابیلې) دروازې پکې جوړې شی.

وَسُيِّرَتِ ٱلْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا ﴿٢٠﴾

او غرونه (له بیخه راونړیږی او) لکه ځلیدونکی سراب روان شی.

إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتۡ مِرۡصَادٗا ﴿٢١﴾

**بيشکه چې دوزخ( درته) په څاو کې دی( مؤمن به په سلامتی تیرېږی او کافران او منکران به پکې ورشیوه کیږی).**

لِّلطَّٰغِينَ مَـَٔابٗا ﴿٢٢﴾

**همدا د سرکشانو او باغیانو لپاره د ورتګ وروستې ځای دی.**

لَّٰبِثِينَ فِيهَآ أَحۡقَابٗا ﴿٢٣﴾

**چې تل تر تله به پکې پراته وی.**

لَّا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرۡدٗا وَلَا شَرَابًا ﴿٢٤﴾

**نه به هلته په یخو اوبو شونډې کیږدی او نه به په کوم خوندور څښاک( ژبې لمدې کړی).**

إِلَّا حَمِيمٗا وَغَسَّاقٗا ﴿٢٥﴾

**خو جوشیدلې اوبه او وینې او بویناکې زوې به ورباندې څښل کیږی.**

جَزَآءٗ وِفَاقًا ﴿٢٦﴾

**همدا یې د (ناوړو اعمالو) مناسبه سزا ده.**

إِنَّهُمۡ كَانُواْ لَا يَرۡجُونَ حِسَابٗا ﴿٢٧﴾

**دا هغه کسان دی چې د( حساب کتاب) ورځې ته هیله من نه وو.**

وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا كِذَّابٗا ﴿٢٨﴾

**او زمونږ آیتونه یې په پوره شدت سره ردول او دروغ یې ګڼل.**

وَكُلَّ شَيۡءٍ أَحۡصَيۡنَٰهُ كِتَٰبٗا ٢٩

او مونږ د دوی ټول اعمال شمیرلی او په عملنامو کې مو ورته ثبت کړی دی.

فَذُوقُواْ فَلَن نَّزِيدَكُمۡ إِلَّا عَذَابًا ٣٠

( په قیامت کې به ورته ووایو) زمونږ له عذابه خوند واخلئ، هیڅکله به درته له عذاب نه غیر، نور څه زیات نه کړو( بلکه د یوه عذاب له پاسه به بل عذاب درکول کیږی).

إِنَّ لِلۡمُتَّقِينَ مَفَازًا ٣١

پرهیزګاران( په آخرت کې) بې له شکه بریمن او نیکمرغه دی.

حَدَآئِقَ وَأَعۡنَٰبٗا ٣٢

د میوو (ګڼ ګور او سرسبزه) باغونه او ډول ډول انګور (به یې په برخه وی).

وَكَوَاعِبَ أَتۡرَابٗا ٣٣

همزولې تنکی پیغلې به هم ورته ورکړی کیږی.

وَكَأۡسٗا دِهَاقٗا ٣٤

او د مطهرو شرابو ډک جامونه به هم ورته پراته وی.

لَّا يَسۡمَعُونَ فِيهَا لَغۡوٗا وَلَا كِذَّٰبٗا ٣٥

نه به عبث او بابیزه خبرې اوری او نه به دروغ او افترآت.

جَزَآءٗ مِّن رَّبِّكَ عَطَآءً حِسَابٗا ٣٦

دا ټول هغه امتیازات دی چې ستا رب یې ورته د دوی د نیکو اعمالو په بدل کې ورکوی.

رَّبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ٱلرَّحْمَٰنِ ۖ لَا يَمْلِكُونَ مِنْهُ خِطَابًا ﴿٣٧﴾

**هغه د آسمانونو او ځمکې او د هغو ترمنځ د ټولو مخلوقاتو او موجوداتو رب، هغه مهربان ذات چې هیڅوک یې ( د جلال او عظمت له هیبته) خبرې نشی کولی.**

يَوْمَ يَقُومُ ٱلرُّوحُ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ صَفًّا ۖ لَّا يَتَكَلَّمُونَ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ ٱلرَّحْمَٰنُ
وَقَالَ صَوَابًا ﴿٣٨﴾

**هغه ورځ چې جبرئیل او ملائک به کتار په کتار ودرېږی، او له هغه چا نه غیر چې رحمن( خدای) ورته د حق وینا اجازه ورکړی، بل هیڅوک به د خبرو (جرأت او طاقت) و نه لری.**

ذَٰلِكَ ٱلْيَوْمُ ٱلْحَقُّ ۖ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ مَـَٔابًا ﴿٣٩﴾

**دا یوه رښتینې واقع کیدونکې ورځ ده، نو که څوک غواړی د خپل رب لوری ته دې د رسیدو او تقرب لاره ولټوی.**

إِنَّآ أَنذَرْنَٰكُمْ عَذَابًا قَرِيبًا يَوْمَ يَنظُرُ ٱلْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ وَيَقُولُ
ٱلْكَافِرُ يَٰلَيْتَنِى كُنتُ تُرَٰبًۢا ﴿٤٠﴾

**مونږ تاسو ته د یوه نږدې راتلونکی عذاب خبرداری درکوو، هغه ورځ چې هر انسان به خپل ټول رااستول شوی( ښه او بد اعمال) ووینی، او کافر به ووایی: کاش زه خاورې وی( خو مکلف او مسؤل انسان نه وی پیدا شوی او دا ورځ مې نه وی لیدلی).**

**« تمت سورة النبأ بفضل الله و رحمته»**

**====================**